## په ۴۶ ورځو کې په نړۍ کې سفر(۳ درجه)

| | |
|---|---|
| توضیح | زده کونکي د نړۍ د هیوادونو په اړه خپله جغرافیه پوهه پلي کوي او خپله د بورډ لوبې ډیزاین کوي. که چیرې د حوالې مواد شتون ونلري، د هیوادونو پرځای، زده کونکي کولی شي د خپل هیواد په ښارونو یا اړوندو ځایونو کې کار وکړي چې د کورنۍ غړي یې د معلوماتو چمتو کولو توان لري. |
| مخکښه پوښتنه | تاسو په ټوله نړۍ کې د خپلو مخالفینو سره څومره ګړندی سیالی کولی شئ؟ |
| ټولټال اړین وخت | د لوبې چمتوکولو لپاره ۶ ساعته او ۱ ساعت د لوبې کولو او بیا کتنې لپاره |
| اړین توکي | د مأخذ یا مرجع توکي (ګوګل، اتلس(نقشه)، د والدینو معلومات)، ورقه، پنسل، کارټ بورډ، قینچی او رنګونه<br><br>د ترجیح وړ: د مأخذ یا مرجع لپاره چمتو شوی کارټ بورډ |
| د زده کړو پایلې | 1. د خلکو، ځایونو او چاپیریال درک کول<br><br>2. د بورډ لوبو ډیزاین او جوړولو څرنګوالی زده کړه<br><br>3. د مختلفو هیوادونو کلتور، سیاست او ملي هویت سپړنه.<br><br>4. د لوبې ډیزاین له لارې د ریاضیکي مفاهیمو (ترکیب) پوهیدل او پلي کول |
| د پوښښ موضوعات/ مفهومونه | ● ۳ بعدي شکلونه<br>● د بورډ لوبې/د لوبې پر بنسټ زده کړه<br>● د لوبې ډیزاین<br>● په ټوله نړۍ کې براعظمونه او هیوادونه<br>● جغرافیه<br>● سیاسي جغرافیه<br>● انتقادي فکر<br>● خلاقیت |
| مخکیني اړینې زده کړې | د نقشې ډیزاین اساسی پوهه<br><br>د بیلابیلو هیوادونو / طبیعي پیښو په اړه د معلوماتو لټون او پوهیدو وړتیا. |

## لومړی ورځ

نن به تاسو زده کړئ چې څنګه د جغرافیه پراساس د بورډ لوبه جوړه کړئ او څنګه یو ټاس (ګیټۍ) جوړه کړئ

**وړاندیز شوی وخت** **فعالیت او توضیحات**

۳۰ دقیقې

- د خپلې خوښې لوبې (بورډ لوبه یا فزیکي لوبه) تشریح کړئ او د هغه څه په اړه وغږیږئ چې تاسو یې د لوبې په اړه خوښوی.
- د لوبې موخه او قوانین ولیکئ.
- دا د دې فرصت دی ترڅو تاسو وکولای شی خپله یوه لوبه چمتو کړی.

۱۰ دقیقې

- د لوبې اساس (بنسټ) دا دی چې د چاپیریال د یوه ناورین له امله، لوبغاړي اړ دې چې خپل هیواد پریږدي او نړۍ ته سفر وکړي او څومره ژر چې دوی کولی شي باید بیرته راستانه شي.
- زده کوونکي به د هغو مرحلو په اړه فکر وکړي چې دوی یې باید د لوبې د چمتو کولو لپاره په پام کې ونیسي.
- هغه مرحلې چې زده کوونکي یې باید تعقیب کړي په لاندې ډول دي:
  - د څرخولو لپاره یو ډایس (ګیټۍ) جوړه کړی
  - داسې یو بورډ جوړ کړئ چې د ۱۴ مرتبطو هیوادونو نقشه له ځانه سره ولري.
  - د هر انتخاب شوي هیواد لپاره د پوښتنو کارتونه جوړ کړئ.
  - د هر لوبغاړي لپاره یوه نښه جوړه کړئ.
  - د یوه نوم په اړه فکر وکړئ او د قوانینو یوه ورقه چمتو کړئ.

۲۰ دقیقې

- د یو مکعب په اړه د خپلو زده کړو پر بنسټ د لوبو یو ډایس (ګیټۍ) جوړه کړئ.
- *یادونه: مکعب یو دري اړخیز جامد څیز دی چې د شپږو مربع مخونو پورې تړلی دی، چې دري یې په هر محورکې سره یو ځای کیږي. زده کوونکي کولی شي نورکیوبونه لکه د یخ مکعب او د شکرکیوبونه وپیژني.*
- خپل ډایس (ګیټۍ) رسم او ډیزاین کړئ. خطونه باید سره قات شي او له یو بل سره په داسې ډول ونښلول شي چې یو مکعب شکل ورځخه منځته راشي.



| وړاندیز شوی وخت | فعالیت او توضیحات |
|---|---|
| ۱۰ – ۱۵ دقیقې | ● زده کوونکي به ۱۴ هیوادونه په ۴ بیلابیلو لویو وچو (براعظمونو کې انتخاب کړي. زده کوونکي به دا د رياضي د عملیو په څیر ولیکي. د بیلګې په توګه:<br><br>- د څلورو براعظمونو (افریقا، آسیا، اروپا او سویلي امریکا) څخه ۳ هیوادونه او له ۲ براعظمونو (آسټرالیا او شمالي امریکا) څخه یو هیواد (۳ × ۴ = ۱۲) + (۱ × ۲ = ۲) = ۱۴)<br>- له ۳ براعظمونو (افریقا، آسیا او اروپا) څخه ۳ هیوادونه، له ۲ براعظمونو (شمالي امریکا او سویلي امریکا) څخه ۲ هیوادونه او له یوه براعظم (آسټرالیا) څخه یو هیواد. (۳ × ۳ = ۹) + (۱ × ۱ = ۱) = ۱۴<br><br>● لارښوونه: زده کوونکي باید هغه هیوادونه انتخاب کړي چې دوی ورسره آشنايي ولري، د هغوی په اړه لیوالتیا ولري، او یا هغه هیوادونه چې ددوی د کورنۍ غړي یې په اړه معلومات ولري.<br>سرچینه: http://ontheworldmap.com/world-map-1750.jpg |
| ۱ ساعت | ● خپل بورډ له داسې یوه چوکاټ سره جوړ کړئ چې ستاسو د هیواد په شمول ۱۴ نور هیوادونه پکې ځای پر ځای کړای شي چې په ټوله کې به دا چوکاټ ۱۵ هیوادونه او ۲۴ خالي ځایونه ولري. |

- تاسو کولی شی دا د ۳ عددي یو ټیبل (چوکاټ) پر اساس وویشی. مثلا: خپل هیواد، یو خالي ځای، دوهم خالي ځای، دوهم هیواد، دریم خالي ځای، څلورم خالي ځای، دریم هیواد او داسې نور.
- تاسو کولی شی دا په یو بل ډول چې ۴۶ شکافونه ولري جوړ کړی (لاندې انځور د یوې مرجع په حیث وکاروئ)
- په بیضوي کې باید لومړنۍ فضا د خپل هیواد واوسي (د پیل نقطه) چې همدا به د پای د نقطې هو به هو وي.




- بیلګې
- لارښوونه: د هر هیواد نوم ولیکئ او د هر هیواد ځای د هغه هویاد د بیرق په شکل کې ډیزاین (جوړ) کړئ او یا داسې یو شی انتخاب کړئ چې هماغه هیواد پورې تړاو ولري.
- لارښوونه: تاسو کولی شی هیوادونه د هغوی د اصلي ځایونو په شکل لکه څنګه چې په نقشه کې لیدل کیږي، ځای پر ځای کړی.
- لارښوونه: کچیرته تاسو وغواړی، تاسو کولی شی خالي ځایونه د طبیعي ځانګړتیاو سره ډک کړی لکه، اقیانوسونه، غرونه او داسې نور.

## دریمه ورځ

تاسو به نن د خپلې لوبې لپاره د ۱۴ هغو هیوادونو په اړه پوښتني ولټوی چې تاسو انتخاب کړي دي.

| وړاندیز شوی وخت | فعالیت او توضیحا |
|---|---|
| ۱۰ دقیقې | د هغو هیوادونو په اړه چې تاسو ورسره ډیره لیوالتیا لری ۳ کټګوری انتخاب کړئ (د بیلګې په توګه: د هیواد مرکز، ملي ژبه، اړین تاریخي ځایونه، طبیعي ځانګړنې، د خوښې خواړه، مشهورې سندرې، د ښه راغلاست یوه جمله او داسې نور. |

۴۰ دقیقې

- د همدغو ۱۴ ځایونو په اړه دغو پوښتنو ته ځوابونه ولټوئ. تاسو کولی شی دا ځوابونه په انسایکلوپیډیا، اجتماعیاتو، ګوګل او یا هم د کورنۍ د غړو څخه په پوښتنو کولو  سره ترلاسه کولی شی.

- لارښوونه: *کچیرته دا منابع موجودې ونه اوسي، تاسو باید دا ځایونه هغهو ښارونو او یا ځایونو ته تبدیل کړی چې ستاسو په هیواد کې شتون ولري او ستاسو د کورنۍ غړي د هغوی په اړه معلومات ولري او وکولای شي ستاسو تولو مرتبطو پوښتنو ته ځواب ووايي.*




د پوښتنو ځینې بیلګې ممکن په لاندې ډول واوسي:

- د انتخاب شوي هیواد ملي حیوان (ژوی) کوم دی؟ (د بیلګې په توګه: پانډا خرس او اژدهار په چین کې)
- د انتخاب شوي هیواد مرکز کوم دی؟ (د بیلګې په توګه: د برازیل مرکز براسیلیا دی)
- په انتخاب شوي هیوا کې تر تولو لوړ غر کوم دی؟ ( د بیلګې په توګه، مونټ ایوریسټ په نیپال کې.)
- په انتخاب شوي هیواد کې رسمي ژبه کومه ده؟ (د بیلګې په توګه: په ارجنټینا کې هسپانوي)
- په انتخاب شوي هیواد کې ترټولو لوی دین کوم دی؟ (د بیلګې په توګه: په پاکستان کې اسلام)
- د انتخاب شوي هیواد اوسنی مشر (رهبر) څوک ده؟ (لکه په جاپان کې شینګزو ابې)
- د انتخاب شوي هیواد په بیرغ کې کوم رنګونه شته؟ (لکه، اسماني، سپین او سور رنګونه د امریکا په بیرغ کې.)

## څلورمه ورځ

نن ورځ به تاسو د خپل د بورډ لوبې ډیزاین بشپړ کړی او همدا راز به د نظر اخیستنې یوه ورقه هم چمتو کړی.

| وړاندیز شوی وخت | فعالیت او توضیحات |
|---|---|
| ۴۵ دقیقې | د لوبو ۳ نښې ډیزاین کړئ – دا نښې ممکن مختلف نقلیه وسایل واوسي (راکیټ، کیښتۍ، موټر او داسې نور) یا ممکن ځېي کرکټرونه واوسي چې د کورنۍ د غړو نمایندګي وکړي (پلار، مور، ورور او داسې نور). دا نښې باید د کارټ بورډ په یوه داسې سټنډ باندې واوسي چې ونغورځېږي.<br><br>• خپل د بورډ لوبې لپاره د یو نوم د انتخابولو لپاره فکر وکړئ.<br>• د لوبې د قوانینو لپاره یوه ورقه چمتو کړئ.<br>• د لوبې د قوانینو ورقه باید لاندې نقطې ولري:<br>۱. د لوبې نوم<br>۲. د لوبې موخه<br>۳. د لوبې قوانین (په بورډ کې څنګه حرکت وکړو، که یو څوک سم ځواب ونه وایي، څه به ترسره شي، او داسې نور)<br>۴. د لوبغاړو تعداد (حد اقل او حد اکثر)<br>۵. د نښې په اړه معلومات یا تشریح<br>• تاسو باید نوښتګره واوسی!<br>• د قوانینو د ورقې یوه نمونه په لاندې ډول سره ده:<br><br>**د لوبې نوم**<br>د لوبې په اړه متن: زده کوونکي کولی شي یو کوچنی متن د هغې طبیعې پیښې په اړه ولیکي چې د دې لامل شو چې دوی او ددوی ملګري اړ شول ترڅو له خپل هیواد څخه بهر سفر وکړي.<br>د لوبې موخه: د اکثریتو سمو ځوابونو په ورکولو سره د پای نقطې ته تر ټول لومړی رسیدل.<br>د لوبغاړو تعداد (شمیر): احد اقل ۲ لوبغاړي او حد اکثر ۳۲ یا ۳۳ لوبغاړي.<br><br>جوړښت (تنظیم):<br>- بورډ تنظیم کړئ او ټولې نښې د خپل هیواد او یا هم د پیل په نقطه کې ځای پر ځای کړئ.<br>- د هر هیواد په اړه د پوښتنو کارټونه د هغوی په خوا کې ځای پر ځای کړئ – د پوښتنو کارټ باید مخ په پورته واوسي او د ځوابونو کارټ باید مخ په ښکته واوسي.<br>- ګیټۍ یا ډایس باید د څرخولو لپاره چمتو واوسي.<br>قوانین/مرحلې:<br>- د لوبې د پیل لپاره باید لومړنی لوبغاړی ډایس وڅرخوي |

| | |
|---|---|
| - د کور د خالي ځای ځخه د نښې حرکت ورکولو لپاره باید نومورې لوبغاړې باید ټولو هغو پوښتنو ته چې د تېریدلو ځای پورې تړاو ولري، سم ځواب ورکړي. د بېلګې په توګه: کچیرته یو لوبغاړی د ۳ شمیره وځرخوي، هغه به یواځې له ۱ ځای ځخه تیریږي او له همدې کبله باید یوې پوښتنې ته ځواب هم ووایي او کچیرته د ۶ شمیره وځرخوي، هغوی باید ۱ پوښتنې ته سم ځواب ووایي.<br>- کچیرته لوبغاړي وتوانیږي چې ټولو پوښتنو ته سم ځوابونه ووایي، دوی باید د ځرخولو په اندازه مخې ته ولاړ شي. او کچیرته لوبغاړي یواځې وکولای شي چې نیمو پوښتنو ته سم ځوابونه ووایي (لکه د ۲ پوښتنو ځخه یوې ته سم ځواب) هغوی به د ډایس د شمیرې په نیمه توګه مخ پر وړاندې حرکت وکړي.<br>- کله چې یوه پوښتنه ترسره شوه او سم ځواب يې ترلاسه شو، هغه به بل لوري ته واچول شي او بل لوبغاړی باید د پوښتنو بل کارټ انتخاب کړي. هر هغه لوبغاړی چې تر ټولو د مخه د لوبې پای ته ورسیږي، د لوبې ګټونکی شمیرل کیږي. | |

## ۵ ورځ

نن ورځ به تاسو خپل ټول نووښتګره مهارتونه او د جغرافیه په اړه خپل عمومي معلومات وکاروی چې تاسو به مخکینیو د بورډ په لوبو کې کارولي ول!

| وړاندیز شوی وخت | فعالیت او توضیحات |
|---|---|
| ۲۰ دقیقې | • د لوبغاړو لپاره د لوبې د نظر اخیستنې یوه ورقه جوړه کړئ. |
| | • دا ورقه باید لاندې نقطې له ځان سره ولري: په قوانینو د پوهیدلو آسانتیا، د کارټونو انځورونه – بورډ – نښې، په لوبه کې ساتیرې |
| ۵۰ دقیقې | • کورنۍ به لوبه یوځای ترسره کړي. |
| ۱۰ دقیقې | • د نظر اخیستنې د جوړې شوې ورقې پر بنسټ به زده کوونکي د خپلې کورنۍ د غړو او یا هم ملګرو ځخه چې د نظر اخیستنې د ورقې پر بنسټ لوبه تر سره کوي، نظر اخیستنه وکړي.<br>• زده کوونکي به نظرونه د خپلو لوبو د لا ښه والي لپاره وکاروي. |
| ۲۰ دقیقې | • په اونۍ کې ګرځیدل: زده کوونکي به د لوبې د چمتو کولو په اړه خپلې تجربې شریکې کړي او لاندې چوکاټ ځخه به کار واخلي:<br>• د لوبې د جوړولو په هکله ما مخکې فکر کاو چې------------ (د هغه څه په اړه لینه وکړئ چې د دغې پروژې ځخه دمخه تاسو د لوبې په اړه فکر کاروه). اوس، زه فکر کوم چې ------------ ( پروژې د ختمیدلو ځخه وروسته او تاسو څه فکر کوی.) د هغو بیلابیلو ۸ هیوادونو په اړه چې په دې لوبه کې اضافه شوي دي، ما مخکې فکر کوه چې--------------(د هغه څه په اړه لینه وکړئ چې د دغې پروژې ځخه دمخه تاسو د لوبې په اړه فکر کاروه). |

## د ارزونې معیارونه

- د قوانینو د ورقې او د لاربښوونو وضاحت او روڼتیا
- په هر هیواد کې ترلاسه شوي معلومات، د نقشې جوړونه او طبیعي آفتونه

- دا لوبه باید زړه راښکونکې او د ساتیرۍ څخه ډکه واوسي

## د غني کولو اضافي فعالیت

زده کونکي کولی شي نور قواعد اضافه کړي، د مثال په توګه: زده کونکي کولی شي د چانس کارتونه اضافه کړي. په دې کې د مختلفو چاپیریالي ناورینونو سره د 4 ناورین کارتونه رسمول شامل دي، او د ناورین شدت پورې اړه لري، لوبغاړي د 1 او 3 ځایونو ترمنځ بیرته حرکت کوي (د بیلګې په توګه، سونامي دوی 3 ځایونه بیرته حرکت کوي - یو طوفان دوی بیرته 1 ځای ته حرکت ورکوي). د بخت کارتونو په هر بلاک کې باید 4 ناورین کارتونه وي (د 4 5 x ناورین کارتونه ټول). زده کونکي به د اړونده کارتونو ډیزاین کولو لپاره د چاپیریال ناورین او د دوی شدت څیړنه وکړي. زده کونکي کارتونه راوباسي او پرې کړي ترڅو په هر 5 خوشحاله کټګوریو کې 4 ځای په ځای کړي. زده کونکي کولی شي نور قواعد اضافه کړي، د مثال په توګه: زده کونکي کولی شي د چانس کارتونه اضافه کړي. په دې کې د مختلفو چاپیریالي ناورینونو سره د 4 ناورین کارتونه رسمول شامل دي، او د ناورین شدت پورې اړه لري، لوبغاړي د 1 او 3 ځایونو ترمنځ بیرته حرکت کوي (د بیلګې په توګه، سونامي دوی 3 ځایونه بیرته حرکت کوي - یو طوفان دوی بیرته 1 ځای ته حرکت ورکوي). د بخت کارتونو په هر بلاک کې باید 4 ناورین کارتونه وي (د 4 5 x ناورین کارتونه ټول). زده کونکي به د اړونده کارتونو ډیزاین کولو لپاره د چاپیریال ناورین او د دوی شدت څیړنه وکړي. زده کونکي کارتونه راوباسي او پرې کړي ترڅو په هر 5 خوشحاله کټګوریو کې 4 ځای په ځای کړي.

## د آسانتیا لپاره بدلونونه

- زده کوونکي کولای شي د هر ځای لپاره یو کارټ ډیزاین یا طرح کړي.
- زده کوونکي کولای شي چې دا ځایونه ساده کړي او د کلو او یا ښارونو څخه کار واخلي چې ددوی په هیواد او یا هم ښار او یا کلو کې شتون ولري.
- زده کوونکي کولی شي چې د ځایونو شمیر ۸ ته راښکته کړي.